غلام محمد زرملوال ۲۰۱۱/۱۰/۱۲

# له محرابه تر تېغره

د افغانانولپاره به پتمنه او د منلو وړ هغه سوله وي چې محراب او تېغر پرې ګډه فیصله وکړي
له افغان علماو څخه هیله کیږي چې د منافقینو له لاسه د اسلام او مسلمانانو د ژغورلو لپاره لاس پر کار شي
د افغان علماو مقدسه وظیفه ده چې
د خپل ملت د نجات پر لور خپل جومات او حجره سره یوکړي
دویمه برخه

د هندو ـ مسلمان ترمنځ نه رغیدونکی بیلتون:
په لندن کې د هند وزیر ته خطاب، د هند وایسرای، لارډ ریدینګ، د ۱۹۲۲ کال د سپتامبر پر ۲۱ نیټه لیکي چې ".. ما اوس تا ته یو تار درلیږلی دی [ولي خان، ربښتا، ربښتیا دي ـ ۲۲-۲۳ مخونه] چې له هغه نه به تاسو ته دا خبره جوته شي چې موږ څنګه د هندو او مسلمان تر منځه د بیلتون راوستلو په مقصد کې تر ډېره حده کامیاب شوي یو. ما پخپله دې مسئلې ته ډېره توجه کړې ده. او په دې سلسله کې زما امداد شفیع [د پنجاب سر محمد شفیع] کړی دی، هغه د کونسل ممبر دی او ډېر باعزته مسلمان دی.

په ۱۹۰۹ زیږدیزکال په هند کې د مورلي- مینتو ریفورم په نوم څه بدلونونه رامنځ ته کړل شول. د هغوی په ترڅ کې د "پېرنګي د اړخه اولنی ګوزار... د مذهبي عقیدې په بنا..." د خلکو د رایو د وېشلو ضربه وه ـ یاني دا چې مسلمان به صرف مسلمان او هندو به هندو ته ووټ ورکاوه. دا هماغه لومړی ګام و چې "پرنګي ... د یوې قومي نظریې په مقابل کې د دوه قومي نظریې بنیاد کېښود." له نړیوالي لومړۍ جګړې وروسته ـ چې په ترڅ کې یې پرنګیانو عثماني خلافت له پښو غورځولی و ـ د هند د وایسرای د اجرائیه شورا یوه غړي، محمد شفیع، په هند کې د "دوه قومي نظریې" د پیاوړتیا پر لور د ۱۹۲۱ کال د نوامبر پر ۲ نېټه د "انګریز او مسلمان د اتحاد" د داسې یوه تنظیم د جوړولو وړاندیز مخ ته کړ چې هغه به په سیمه کې د برتانوي امپریالیزم د شتون د دوام او په ګټه وي.

برتانیا د نړیوالي دویمې جګړې په بهیر کې دومره ناتوانه او کاواکه شوه چې پر ګرد هند یې د راج چلولو هیله شنډه شوې وه. نو پداسې چاپیریال کې یې، له یوې خوا، په راتلونکې کې د منځنۍ ختیځ د تیلو پر سرچینو د واک موندلو پر لور په سیمه کې د صهیونیزم په بوټي زرغونولو پیل کړی و، او له بلې خوا یې پر هند د خپلې راتلونکي اغیزې د ساتلو پر موخه د هندو- مسلمان تر منځ د نفاق د اور خپرولو له لارې ـ په بیساري ریاکارۍ د "پاکستان" په نوم پر مذهب ولاړ یوه مصنوعي دولت د جوړولولپاره مسلم لیګ، تیار زین او چمتو کړی و.

چرچل د هند کانګریس- مسلم لیګ ترمنځ کشالي ته د برتانوي راج د [دوام] د ستني په توګه کتل. او کله چې یې د هندو- مسلمان ترمنځ په خپل لاس زېږولي کشاله د خپلې راتلونکي کړنلارې د بنسټ خښته وګرځوله، نو تر شا یې خپل تبلیغات پر دې خبره عیار کړل چې ګوندي اساسي ستونزه ".. دا نه وه چې برتانیا دې هند ته خپلواکي ورکړي او که نه، بلکې ستونزه دا وه چې ـ د مسلم لیګ پر مشرۍ د مسلمانو، او د کانګریس پر مشرۍ هندوانو تر منځ د ژورو توپیرونو په پام کې نیولو سره ـ ایا هند د خپلواکۍ د سمبالولو جوګه و او که نه؟!."
[دا د پام وړ ده چې انګریزان د هند کانګریس ته، چې په پرنګي ضد مبارزه کې د فخر افغان په شمول، د هند ګڼ شمیر مسلمان مشران او ملیونونه ور سره وو او قرباني یې ورکولې ـ "هندو کانګریس" وایي. او دا هم د پام وړ ده چې په ۱۹۴۷ زیږدیزکال د برتانوي پاکستان له جوړیدو راهیسې که به چا د خپلو حقوقو غوښتنه کوله نو د "هندو" ټاپه به پرې وهل کیده، د تورو زندانونو شاته به غورځول کېدل، ژوند، عزت او مال هرڅه به یې له لاسه ورکول.]

په ۱۹۴۳ زیږدیز کال د هند د وایسرای په توګه د لارډ لینلیتګو دوره پای ته ورسیده او پرځای یې لارډ ارچیبالد ویول وایسرای وټاکل شو. نوموړی، فیلډ مارشال ویول، له دې نه مخه په هند کې د برتانوي ځواکونو کومندان و. لارډ لینلیتګو د خپلې تصدۍ پر مهال د مسلم لیګ د مشر، محمد علي جناح، پر پرسولو لاس پورې کړی و؛ هڅه یې کړې وه چې د ۱۹۴۰-۴۱ کلونو په بهیر کې د هند د مسلمانانو د "یواځني ویاند" کچې ته یې پورته کړي؛ او دې ته یې چمتو کړی و چې د لارډ ویول تر لمنې لاندې د برتانیا په ګټه د مسلمانانو او پرنګي "اتحاد" عملي کاندي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له ډهلي نه لندن ته تر تګ دمخه د ليکلي يوې مباحثې په ترڅ کې، لارډ لينليګتو د هند نوي وايسراى، لارډ وېول، ته وايي چې برتانيا به "د لږ تر لږ نورو ديرشو کلونو لپاره د هند چارې پر مخ وړي ... او دا مهال - پداسې حال کې چې ګاندهي او د کانګريس نور مشران په جيلونو کې پراته دي او مسلمانان د تېرو دريو يا څلورو کلونو په بهير کې ښه پياوړي شوي دي - دا هيواد [هند] د دې موخې [ياني پرې د برتانيا د ولکې دوام] لپاره ښه چمتو کړل شوی دی."

لارډ وېول ليکي چې - په برتانيا کې د ۱۹٤۵ زيږديز کال ټولټاکنو په پايله کې د محافظه کار ګوند له ماتې وروسته مې - له وينسټن چرچل سره وليدل. پداسې حال کې چې نور په هند کې د پاتې کيدو خوب يې ناسم ختلی و، چرچل راته د وروستۍ خبرې په توګه وويل چې: د "هند يوه ټوټه ځان ته وساته". “Keep a bit of India”

نو جناح - د چرچل لپاره "د هند د يوې ټوټې د ساتلو" په موخه - د "کليو او کوڅو پر وينو لړلو" د خپل هوډ په عملي کولو لاس پورې کړ. د ١٩٤٦ کال د اګست پر ١٣ [روژه کې] مسلم ليګ ګوند د " مخاخ اقدام" تر شعار لاندې يوه اعلاميه خپره کړه چې کاپي يې - د [کلکتې] د ګورنر د دوتر له لارې - لندن او ډهلي ته استول شوې وې. ".. پدې لاسوند کې له شکه پرته دا خبره جوته ده چې د کلکتې ګورنر ته د مسلم ليګ د ارادې خبر مخکې له مخه ورکړ شوی و". دا اعلاميه پداسې ژبه ليکل شوې وه چې له هغې نه له نيمې پيړۍ ډېرې مودې وروسته د القاعده له اعلاميو سره يې يواځې سر نه خوړ،بلکې تر هغې لا ډيره شديده وه.

د مسلم ليګ د اعلاميې په وروستي پراګراف کې ويل کيږي:
د رمضان په مياشت کې قُران [شريف] نازل شوی؛ د رمضان په مياشت کې خدای پاک د جهاد کول جايز وګڼل؛ د رمضان مياشت وه چې په ٦٣٤ کال د اسلام او بېدينانو تر منځ لومړۍ جګړه په بدر کې وشوه، چې په کې ٣١٣ مسلمانان د ٩٠٠ کفارو پر وړاندې کامياب شول؛ د رمضان په مياشت ٦٣٠ کال د پيغمبر (صلعم) پر مشرۍ، لس زره مسلمانانو مکه [معظمه] فتح کړه او په عربستان خاوره يې د خدای سلطنت او اسلامي کامنويلت جوړ کړ. مسلم ليګ نېکمرغه دی چې پدې سپېڅلې مياشت کې خپل اقدام پيل کوي. [دا سوچه او سُتره هماغه جناح، چې په "ويسکي" څښلو يې تل خوله بوينه او غرمنۍ يې "د خوک غوښه" وه؛ نه د اسلام له پينځه ستنو[پنج بنا] څخه خبر و؛ نه يې لمونځ زده و، نه يې روژه نيوله او نه پر نورو سپېيڅلواسلامي ارشاداتو پوهيده ؛ او هغه مسلم ليګ دي چې د برتانيا پر توره د له پښو اچول شوي پرنګي د ساتلو او ننګه يې د "خلافت نهضت" پر ضد اقدام کړی و.]

د مخامخ اقدام د عملي کولو په نتيجه د "کلکتې ستر- وژنو" په پايله کې د ښار کوڅې د پينځه زره تنو وژل شويو او له شل زره څخه زياتو ټپيانو په وينو رنګ شوې وې. ډېره ناسمه به نه وي چې د ملتونو تر منځ د حق غوښتنې جګړه له هماغه نېټې - د برتانوي پرنګي پر لاس، لمسون او ګټه - په مذهبي جګړه د اړولو يو غوره پړاو و او دا تر ننه پورې دوام لري.

ترهګري له برتانوي پاکستان سره غبرګه زيږول شوې او تر دې دمه يې دولتي پاليسي پاتې شوې ده.
د سکندر ميرزا زوی، همايون ميرزا، وايي چې د يوې پټې غونډې په ترڅ کې، محمد علی جناح د ده پلار ته وريادة کړه چې: ".. په هند کې له حکومت څخه استعفا وکړي او قبايلي سيمو ته، چې دی پکې خورا ښه بلد دی، راستون شي. په هغه ځای کې دې [د خدايي خدمتګار] پرضد جهاد پيل کړي ... د جناح غوښتنې سکندر ميرزا هک حيران کړ... هغه پوهېده چې بغاوت ته د قبايلو د هڅونې په پايله کې به خورا زياته وينه تويې شي... خو ... بيا يې هم د جناح خبره نشوه ردولی ... نو جناح ته يې وويل چې د دې ستړې دندې سرته رسولو لپاره به - په تېره په وزيرستان، تيراه او مومندو کې - پيسې په کار وي ... کله چې [جناح] ترې وپوښتل چې څومره، سکندر ميرزا يې په ځواب کې وويل: يو کروړ (چې د شلمې پېړۍ په پای کې د پنځوس کروړه روپيو معادل وې.) ... [محمد علی جناح] سکندر ميرزا ته د بېړنيو لګښتونو لپاره شل زره روپۍ ورکړې، او ورته ويې ويل چې نورې به د بهوپال نواب ورته تيارې کړي. د موضوع د پټ ساتلو لپاره به، ده ته د دې ماموريت د سرته رسولو په هکله په مناسب وخت کې وويل شي."

خو مونټباټن او اولف کيرو خپله دنده په پوره زيرکۍ سره سر ته رسولې وه؛ برتانوي پاکستان يې زيږولی و او د سکندر ميرزا جهاد ته ضرورت نه و پاتې شوی.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ